مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۳/۲۹

# ستا نامه اخلي د خلکو غولېدو ته

ددې زړونو د ارمان خدای پیسې دي
ددې دور د ایمان خدای پیسې دي

دا پــه مینه کې اغراق يې تش تمثيل دی
لېونيه !د جانان خدای پيسې دي

ستا نامه اخلي د خلکو غولېدو ته
خدايه! دلته د انسان خدای پيسې دي

فلسفي دی او که پير دی که مريد دی
د دانا او د نادان خدای پيسې دي

دا چي تا ته معنوي مـعـنـوي کـېـږي
غلط نشي ددې ځوان خدای پیسې دي

بس بــاوره بــوالهوسه مجنوني ده
دې د دروغـو د جانان خدای پيسې دي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ